# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې دویمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۳مه | ۴۸۴مه ګڼه


هېواد


۴ مخ

## کمبوديا

دغه هېواد د ټوکرانو اوبدلو پیاوړی صنعت لري، چې د هېواد ۷۰ سلنه صادرات برابروي او همدا راز پنځه سلنه کارګران پکې پر کار اخته دي.



## صافي: د ۵۰۰۰ تاريخي ځايونو د بيارغوني لپاره ۱۶۰ ميليونه افغانۍ ځانګړې شوې دي



د اطلاعاتو او کلتور وزارت ويلي، د دغه وزارت د غوښتنې پر اساس، حکومت ۱۶۰ میلیونه افغانۍ د تاریخي اثارو بیا جوړونې لپاره ځانګړې کړې دي.

د دغه وزارت سرپرستې وزیرې حسینې صافۍ تېره ورځ د تاریخي ابداتو وضعیت په نامه په یوه ناسته کې وویل چې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د پنځو زرو تاریخي اثارو سروې شوې، چې له دې ډلې ۱۷۷۷ تاریخي اثار فهرست شوي دي.


هغې زیاته کړې چې ۸۱۱ تاریخي اثار ثبت او لوحې پکې اېښودل شوې دي. د نوموړې په خبره: «موږ داسې اثار هم لرو چې د بیارغونې لپاره یې د تاریخي اثارو ریاست له خوا ورته مشخصه برنامه جوړه شوې. په دې برنامو کار کوو او دا چې په کومو ولایتونو کې په مشخصه توګه کار کوو، تاسو سره به یې په راتلونکي کې شریک کړو».

# د ولسمشريزو ټاکنو لومړنۍ پايلې:

## کمېسيون ولسمشر غني مخکښ اعلان کړ، خو نورې ټاکنيزې ډلې پايلې نه مني

ثبت وشمارش عمومی

| نام کاندید | رای | % |
|---|---|---|
| محمد اشرف غني | 923,868 | 50.64 |
| دکتور عبدالله عبدالله | 720,990 | 39.52 |
| گلبدین حکمتیار | 70,242 | 3.85 |
| رحمت الله نبیل | 33,921 | 1.86 |
| دکتور فرامرز تمنا | 18,066 | 0.99 |
| سید نورالله جلیلي | 15,526 | 0.85 |
| عبداللطیف پدرام | 12,608 | 0.69 |
| عنایت الله حفیظ | 11,374 | 0.62 |
| محمد حکیم تورسن | 6,504 | 0.36 |
| احمد ولي مسعود | 3,942 | 0.22 |
| محمد شهاب حکیمی | 3,324 | 0.18 |
| پوهاند پروفیسور دوکتور غلام فاروق نجرابي | 1,606 | 0.09 |
| محمد حنیف اتمر | 1,565 | 0.09 |
| نور رحمان لیوال | 865 | 0.05 |




۳

لومړنۍ پايلې؛ غير مسوولانه اقدام بحران زېږولی شي

۲ مخ

د نړيوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړيتوب حقوقي ارزونه

۲ مخ

د تاريخ بدنام ترونونه

۳ مخ

## ناټو: افغان دولت او طالبان بايد د سولې مخامخ خبرې پيل کړي

د ناټو د ملکي سفیر مرستیالې هولي هولزر ویلي چې سوله د افغانستان تر ټولو مهمه اړتیا ده او ټینګار یې کړی چې د سولې د ټینګښت لپاره د افغان دولت او وسله والو طالبانو تر منځ مخامخ خبرې اساسي چاره ده.

هولي هولزر د سوېل- ختیځ زون مرکز ګردېز ته د سفر پر مهال د دغه ولایت له ځینو ځوانانو او خبریالانو سره په ناسته کې ویلي، چې ناټو د سولې په پروسه کې همکارۍ ته ژمنه ده.

نوموړې ویلي، د دې سیمې له ځوانانو سره یې خبرې وکړې چې د سولې په تړاو باید راتلونکي ګامونه څه او څنګه وي او له کومو لارو په یاده پروسه کې دایمي پرمختګونه راتلای شي، هولي هولزر دغه راز زیاته کړې چې ناټو همکاري کوي څو ټولې خواوې چې د سولې لپاره ژمنې دي، د سولې د ټینګښت لپاره سره راټولې کړي.

د هغې په خبره: «ناټو به د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکړي چې د سولې لپاره فضا برابره کړي. د سولې لپاره دواړو خواوو افغان دولت او وسله والو طالبانو ته ضرور ده چې سره کېني او د افغانانو د سولې او نېکمرغۍ لپاره سره خبرې وکړي».

د ناټو د ملکي سفیر مرستیالې زیاته کړې چې د ټاکنو پروسه هم له نږدې تعقیبوي او هیله یې څرګنده کړې چې ټولې ټاکنیزې ډلې به ټاکنیزو کمېسیونونو ته په درناوي د ټاکنو پایلې ومني.

## د سولې له هوکړې سره به جوخت لنډمهالې اوربند هم وشي



۵ مخ

## غني: با عاملان آلوده گی هوا برخورد قانونی صورت گیرد




رئیس جمهور غنی، به وزارت داخله هدایت داده است تا با عاملان آلوده گی هوا که از توصیه‌های حکومت مبنی بر تغییر مواد سوخت و نصب فلترهای تصفیۀ دود تخلف می کنند، برخورد جدی قانونی صورت گیرد.

در خبرنامۀ دفتر سخنگوی ریاست جمهوری آمده است که رئیس جمهور در نشستی با اعضای کمیسیون جلوگیری از آلوده گی هوا گفته است: «فضای کابل برای شهریان کابل کشنده شده و این وضعیت وخیم، نیاز به اقدامات عاجل و عملی دارد».

وی به مسئولین مربوطه هدایت داده است تا به زودترین فرصت، عاملان درجه یک آلوده گی هوا را مکلف سازند که استفاده از مواد سوخت را که باعث آلوده گی هوا می‌شود، متوقف ساخته و در عوض از مواد سوخت با کیفیت استفاده کنند؛ همچنان بخاطر جلوگیری از تولید دود، از فلترهای تصفیۀ دود معیاری، استفاده صورت گیرد.

به گفتۀ او، مالکان شهرک‌های کلان در کابل، مالکان بلند منزل‌ها، خشت‌پزی‌ها، حمام‌ها، سالون‌های عروسی، فابریکه‌های تولیدی و سایر تجارت‌ها، عاملان اصلی آلوده گی هوا می‌باشند که به خاطر منفعت شخصی شان، حیات جمعی مردم کابل را به خطر مواجه ساخته اند.

وی افزوده است: «هیچ استثنایی در این مورد قابل قبول نیست؛ من شخصاً در قسمت کسانی‌که به خاطر منافع شخصی، حیات جمعی مردم ما را به خطر می‌اندازند، قاطع هستم و از هیچ اقدام قانونی که باعث مسئولیت پذیری افراد در مقابل جامعه شود، دریغ نخواهم کرد».

## دریځ

### لومړنی پایلې؛ غیر مسوولانه اقدام بحران زیږولی شي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون تېره ورځ د رایو جنجالي پایلې اعلان کړې. کمېسیون وویل چې په لومړنیو پایلو کې ولسمشر غني مخکښ دی او ۵۰،٦۴ سلنه رایې یې ګټلې دي. له دې سره هممهاله ټاکنیزې ډلې بیا دغه پایلې نه مني. کمېسیون وایي، دوی ټول کارونه د قانون او لایحو مطابق مخ ته وړي دي او اوس د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د نوماندانو شکایتونه څېړي. دغه کمېسیون هم سر له سبا تر دریو ورځو پورې شکایتونه ثبتوي.

ولسمشریزې ټاکنې له لومړي سره جنجالي وې. کمېسیون د نوماندانو له لوري جوړ شو، نوي کمېسیون د ټاکنو لپاره تیاري ونیوله او ویې ویل چې نږدې لس میلیونه خلک ښايي رایې ورکړي. خو اوس پایلې ښیي چې د خلکو ګډون په ځلونو تر هغه کم و چې کمېسیون او نوماندانو به یاداوه. له دې سره کمېسیون ولسمشر غني د ټاکنو ګټونکی اعلان کړ، خو پاتې نوماندان په دې اعلان او پایلو قناعت نه لري. دوی ان دا ادعا هم کوي چې شکایتونه یې نه دي څېړل شوي او کمېسیون یې وړاندیزونو ته ارزښت نه دی ورکړی.

ټاکنې له ستونزو ډکې وې په دې کې شک نشته دی، خو بیا هم لومړنی پایلې اعلان شوې او دا پایلې په هېواد کې یو بل کړکېچ زیږولی شي. ټولې ټاکنیزې ډلې خپل پلویان لري، دوی د پایلو پر اعلان قناعت نه کوي، نو که د دوی قناعت حاصل نه شي، حکومت او د ټاکنو خپلواک کمېسیون په لوی لاس یوه بحران او کشمکش ته لاره هواره کړې ده. د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته پکار وه چې د ټولو نوماندانو قناعت یې حاصل کړی وای. دوی ته یې ثابته کړې وای چې دوی د کومې ځانګړې ټاکنیزې ډلې ملاتړې نه دي او یوازې شفافیت ته ژمن دي. اوس یې چې دا کار نه دی کړی او ټاکنیزې ډلې یې د یوه ځانګړي ټاکنیز ټیم ملاتړې بولي؛ نو د دې احتمال شته چې په هېواد کې کشمکشونه، ناندرۍ او یا بل کړکېچ رامنځ ته شي.

د ټول ولس د ۲۰۱۴ ز کال ټاکنې په یاد دي. لاریونونه، اقتصادي مشکلات، امنیتي مشکلات او په سیاسي لحاظ چې کومې ستونزې په افغانستان کې رامنځ ته شوې، د ټول ولس په یاد دي. اوس هم که ټاکنیز کمېسیونونه ولس او یا ټاکنیزو ډلو ته قناعت ور نه کړي، د بحران د رامنځ ته کېدو وېره شته ده. ټاکنیزې ډلې ادعا کوي چې کمېسیون د یوه لوري ملاتړ کړی دی او د دې ادعا لپاره به هرو مرو دوی اسناد او شواهد لري. له همدې امله کمېسیونونو ته پکار ده چې هر ګام په پوره احتیاط او دقت واخلي.

اوس چې پایلې اعلان شوې دي او له یوه ټیم پرته نور پر دې پایلو قناعت نه لري، ټاکنیزو کمېسیونو ته پکار ده چې د قوانینو په رڼا کې د ولس قناعت خپل کړي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دې ټول شکایتونه په بې طرفانه توګه وڅېړي او ولس ته دې خپلې پایلې وړاندې کړي. په دې منځ کې د نړیوالې ټولنې او همدا راز د ټاکنیزو پروسو د ملاتړو او همکارو هېوادونو مسوولیت هم دی، چې کمېسیونونه شفافیت ته اړ کړي، افغانانو ته قناعت ورکړي او د خلکو رایو ته درناوی وکړي.

# د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدین کامل

اوومه برخه:

**شفافیت**

د سازمان یو بل مهم اصل شفافیت دی. د ګاټ ۱۰مه ماده، د ګاټ ۳مه ماده او د TRIPS ٦۳مه ماده د شفافیت په اړه احکام ذکر کړي دي. د ګاټ لسمې مادې له مخې، غړي هېوادونه د افغانستان په شمول مکلف دي چې ټول قوانین، مقررې، قضایي پرېکړې او اداري احکام په داسې ډول نشر کړي چې حکومتونه او سوداګر ورسره اشنا شي. همدا راز هر هېواد مکلف دی چې د توکو اصناف او د هغې اټکل شوې بیې د ګمرکي موخو لپاره؛ ګمرکي مالیو او محصولاتو اندازه؛ پر وارداتو او صادراتو باندې وضع شوي شرایط، محدودیتونه او ممنوعیتونه؛ هغه موافقې چې پر نړیوال تجارت اغېزه کوي او د سازمان د غړو هېوادونو تر منځ یا د یو غړي او بل هېواد تر منځ تر سره شوي وي نشر کړي.

د ګاټ ۱۰مه ماده پر دې سربېره، له غړو هېوادونو څخه غواړي چې د سوداګرۍ اړوند ټول مقررات یو ډول، بې پرې او په معقول ډول اداره کړي. همدا راز دغه ماده له غړو هېوادونو غواړي چې پر وارداتو د اضافه مالیې له وضع کولو وړاندې باید نوې تعرفې نشر کړي او تر نشر وړاندې د اضافه تعرفو وضع کولو او د نورو تدابیرو له اخیستلو ډډه وکړي.

**افغانستان او د شفافیت اصل**

سازمان ته تر الحاق وړاندې افغانستان پر دې مکلف نه و چې ملکي قوانین او نور مقررات نشر کړي. البته سازمان ته له الحاق وروسته بیا د ګاټ له لسمې مادې سره سم باید ټول قوانین او مقررات نشر کړي. له سازمان سره د مذاکراتو پر مهال افغان استازو ژمنه وکړه چې تر الحاق وروسته به د ګاټ ۱۰مه ماده په بشپړه توګه تطبیق کړي او د سازمان له هوکړه لیکونو سره سم به ټول معلومات سازمان ته ورکوي. افغانستان همدا راز پر دې توافق وکړ چې افغانستان به د سازمان له اصولو سره سم سازمان ته پر خپل وخت او د سازمان له خوا له وضع شوو شرایطو سره سم اطلاع ورکوي.

افغان استازي همدا راز څرګنده کړه چې عمومي عادت یا رواج دا دی چې افغانستان د قوانینو مسودې د عامه خلکو د تبصرو لپاره نه نشروي. مسودې یوازې د هغو اشخاصو، ډلو او ارګانونو سره شریکېږي چې په یاد قانون کې علاقه ولري یاترې اغېزمن کېږي. هغه وویل چې افغانستان تازه اوس پر یوې نوې مسودې کار کوي چې د شفافیت اصل اړوند شرایط چې د سازمان له هوکړه لیکونو سره به مطابقت ولري، ځای پر ځای کړي.

د تقنیني سندونو د خپرولو او انفاذ د ډول قانون لومړی په ۱۹۹۹ز کال کې تصویب شو. د دغه قانون پنځمه ماده د ځینو سندونو د خپرولو په اړه صراحت کوي. د پنځمې مادې له مخې، په رسمي جریده کې د «اسلامي امارت رسمي اعلامیې چې عامو خلکو ته یې خبرتیا لازمه وي، قوانین، مصوبې، او نور پارلماني تقنیني سندونه» خپرېږي؛ پر دې سربېره، فرمانونه، مقررې، اساسنامې او د وزیرانو د شورا مصوبې چې تقنیني ماهیت ولري؛ همدا راز نړیوال تړونونه، موافقتنامې او نړیوالې مقاولې چې د افغانستان له خوا لاسلیک کېږي او د هغو د تصویب په هکله فرمانونه؛ هغه تقنیني سندونه چې د قانون له حکم سره سم یې ستره محکمه د تصویب واک ولري او تجارتي علایم او د سندونو د ثبت اعلانونه په رسمي جریده کې خپرېږي. افغانستان وروسته په ۱۳۹۵ لمریز کال کې د تقنیني سندونو د خپرولو او انفاذ ډول قانون په ٦۸ مادو کې تصویب کړ. دا قانون تر پخواني قانون ډېر جامع دی. یاد قانون د تسوید، تدقیق او تایید، تصویب، توشیح، نشر او داسې نورو په اړه په تفصیل سره احکام لري. البته د عدلیې وزارت د رسمي جریدې رسمي ډېټابېس اوس ښیي چې پورته دواړه قوانین اوس ملغی دي او اوس څرګنده نه ده چې د تقنیني سندونو نشر د کوم قانون له مخې تنظیمېږي.

**د شخړو حل و فصل**

د سازمان د شخړو د حل و فصل سیستم پر ټولو هغو شخړو تطبیقېږي چې د سازمان تر هوکړه لیکونو لاندې راوړل شوي وي او د شخړو د حل و فصل د پوهاوي Dispute Settlement Understanding (DSU) په ضمیمه کې ذکر شوي وي. دغو هوکړه لیکونو ته په DSU کې Covered Agreements وایي او دواړه څو اړخیز او ګڼ اړخیز هوکړه لیکونه په کې شامل دي. د سازمان هر هوکړه لیک یوه یا دوه مادې د شخړو د حل و فصل په اړه لري چې له مخې یې هر غړی هېواد کولای شي خپله شخړه د سازمان د شخړو د حل و فصل د رکن له خوا حل کړي. د ګاټ ۲۲مه او ۲۳مه ماده هم د شخړو د حل و فصل په اړه احکام لري. همدا راز د شخړو د حل و فصل په پروسیجرونو کې د لږو پرمختللیو هېوادونو لپاره ځانګړي امتیازونه ورکول شوي دي او د دوی لپاره ځانګړي اصول وضع شوي دي. د DSU ۲۴مه ماده له غړو هېوادونو غواړي چې د لږو پرمختللیو هېوادونو ځانګړي حالتونه د شخړو د حل په ټولو پړاوونو کې په نظر کې ونیسي. همدا راز له غړو هېوادونو څخه غوښتل شوي چې د لږو پرمختللیو هېوادنو خلاف دې له قضیو راوړلو څخه حدالامکان ځان وساتي او که لږ پرمختللی هېواد قضیه بایلي یا د لږ پرمختللي هېواد له خوا اخیستل شوي تدابیر د سازمان د موافقو خلاف وي، نو شکایت کوونکی هېواد دې د تاوان غوښتلو، یا د تعرفو ښکته کولو یا بلې وجیبې له وضع کولو څخه تر حدالامکان ځان وساتي، یانې نه دې ترې غواړي.

**افغانستان او د شخړو د حل و فصل سیستم**

افغانستان ته د سوداګرۍ نړیوال سازمان غړیتوب د اخیستلو یوه احتمالي ګټه د هغې د «شخړو د حل و فصل» سیستم څخه کار اخیستل ښودل کېده. افغانستان هیله من دی چې د ګاونډیو او نورو تجارتي شراکت لرونکو هېوادونو له خوا د سازمان د اصولو او قوانینو د نقض په صورت کې به د شخړو له حل و فصل سیستم څخه استفاده وکړي او هغوی به دې ته مجبور کړي چې د سازمان له اصولو سره سم عمل وکړي. د سازمان د شخړو د حل و فصل سیستم د نړۍ تر بل هر نړیوال سازمان څخه بریالی ګڼل کېږي. د کامیابۍ ډېر لاملونه یې دا دي چې یو یې هم په ټاکلي وخت کې د شخړو حلېدل دي او دویم یې دا چې هېوادونه د سازمان پرېکړې عملي کوي او د نه عمل په صورت کې بل هېواد ته د دې اجازه ورکوي چې متقابل عمل وکړي.

د شخړو د حل و فصل سیستم په تیورۍ کې د ټولو غړو هېوادونو لپاره خورا ښه ښکاري، خو واقعیت بیا بل ډول دی چې دغه سیستم یوازې د پرمختللیو او مخ پر ودې هېوادونو لپاره اغېزمن ثابت شوی دی؛ خو د لږو پرمختللیو هېوادونو لپاره ځانګړې ګټه نه لري. تر دې دمه په ۵۸۴ قضیو کې یوازې یو ځل لږ پرمختللي هېواد د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د شخړو د حل و فصل سیستم کارولی دی. هغه هم بنګلادیش د هند خلاف په ۲۰۰۴ ز کال کې د ډمپېنګ په یوه قضیه کې کارولی و چې د پېنل تر جوړېدو وړاندې بیا دغه ستونزه حل شوه. د لږو پرمختللیو هېوادونو له خوا د شخړو د حل و فصل سیستم د نه کارولو لاملونه خورا ډېر دي، خو تر ټولو مهم یې دا دي چې په سازمان کې پر دعوو مصارف زیات راځي. بل لږ پرمختللي هېوادونه تخنیکي ظرفیت نه لري چې خپلې قضیې په خپله پر مخ یوسي. دریم دا چې د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې پوهان یې له نشت سره برابر دي او څلورم هم دا چې پرمختللي هېوادونه د افغانستان په ګډون، تل د نورو تر سیاسي فشار لاندې وي او له همدې کبله نه شي کولای چې په نړیوالو فورمونو کې له خپلو حقونو دفاع وکړي.

**دوام لري...**

# لاوروف: مسکو نه غواړي چې د امریکا د خوشالۍ لپاره له چین سره خپلې اړیکې خرابې کړي

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف د دغه هېواد له یوې تلوېزیوني شبکې سره د خبرو پر مهال ویلي، چې دوی له امریکا سره د اړیکو د ښه کېدو لپاره نه غواړي چې له چین سره دوه اړخیزې اړیکې خرابې کړي.


لاوروف ویلي، روسیه هڅه کوي چې د ګاونډیو هېوادونو په ګډون، له نړیوالو قدرتونو سره هم ښې اړیکې ولري، خو دا په دې مانا نه ده چې په دې سره به له ځینو نورو هېوادونو سره د مسکو په اړیکو کې بدلون راشي.

د نوموړي دغه اشاره امریکا ته د هغه د وروستي سفر په تړاو وه چې له یاد سفر وروسته په رسنیو کې داسې ګنګوسې خپرې شوې، چې امریکا له روسیې غوښتي چې واشنګټن په هغه صورت کې له مسکو سره د اړیکو د بیارغولو لپاره تیار دی چې دغه هېواد له چین سره خپلې اړیکې محدودې کړي.

هغه د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي: «موږ د امریکایانو د خوشالولو لپاره له چین سره خپلې اړیکې نه خرابوو».

نوموړي دغه راز خبرداری ورکړی چې که امریکا له بندیزونو او نورو غیرقانوني لارو هڅه کوي چې پر روسیې فشار راوړي، نو دوی به د هېڅ فشار ته هم تسلیم نه شي.

لاوروف ویلي چې امریکا ته یې په وروستي سفر کې د سپیني ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار ترې غوښتي، چې له امریکا سره د اړیکو د رغولو په صورت کې له چین سره خپلې اړیکې محدودې کړي، خو د نوموړي په خبره، د امریکا دغه غوښتنه بې ځایه او له امکانه لرې ده.



د روسیې د بهرنیو چارو وزیر همدا راز له ټرمپ سره د وروستۍ ناستې په تړاو هم ویلي چې د متحده ایالتونو ولسمشر ورسره د دواړو هېوادونو د اړیکو د رغېدو په ګډون، پر ډېرو نورو نړیوالو مسایلو هم څرګندې خبرې کړې دي.

لاوروف ویلي چې ولسمشر ټرمپ د دې لپاره ډېره لېوالتیا لري چې له روسیې سره پر اختلافي ټکو په واضح توګه خبرې وکړي.

# د تاریخ بدنام تړونونه

ليکوال: قاضي نجيب الله جامع

د نړۍ په هېڅ برخه کې محکومو ملتونو له اشغال څخه آزادي او له استبداد څخه خلاصون د جګړې، مبارزې او له عملي سربښندنې پرته نه ده تر لاسه کړې.

دا مسئله هله لا پېچلې، له سرخوږيو ډکه او پر ناسور واوړي کله چې امپرياليست يرغلګر ځواکونه د خپل دريځ پر دفاع او ملاتړ کې د اخلاقي اړخونو تر څنګ، له هغه ملت، قام، ټبر او قبيلې څخه د خپلو ستراتيژيکو موخو د تر لاسه کولو په برخه کې يوه برخه خلک د همکارانو په عنوان اجير، کرايي او جاسوس کړي. همدارنګه دوی ته بيا پراخ امکانات په اختيار کې ورکړي، په پېخرو ثروت ورته وبښي، بې پوښتنې واک ورکړي او په ټوله کې په کور د ننه او د نړيوال مشروعيت په دريځ کې يې د پېژندنې ټولې دروازې پرمخ ورته خلاصې کړي. داسې مهال يو ملت له دغسې لاسپوڅو، بلواکو، ورځچارو، غلو او د پردو په تزريق شويو ويټامينونو راسترې شوې ډلې سره د حکومت په اصطلاح مشروع جوړښت سره په ټکر کې واوړي، د سراسري- ملي ناخوښيو څپه راپورته شي، ولسي- ملي خوځښتونه دغه جوړښتونه ننګوي، خپل انځور پکې نه ګوري، فلسفي وجود او سياسي مشروعيت يې يو له بل سره متضاد ښکاري او بالاخره خبره د نظامونو تر بدلولو او د حکومتونو تر چپه کولو، جګړې، تاوتريخوالي او خورا کړکېچ پاروونکو ګامونو پورې مخکې لاړه شي.

د بېلګې په توګه، کله چې د ۱۹۹۰ او ۱۹۹۱يمو ز کلونو تر منځ د خليج لومړنۍ جګړه رامنځ ته شوه، نو د ال سعود په مشرۍ د عربستان حکومت له نږدې ۵۰ زرو امريکايي ځواکونو په دې پلمه هرکلی وکړ او له امريکا سره يې دغه ننګين استخباراتي تړون توجيح کړ، چې ګواکې امريکايان د دوی د امنيت په موخه د لنډې مودې لپاره راغلي او تر ټولو جالبه لا دا چې د مکې او مدينې مقدس ځايونه د صدام د لښکرو له خوا له ګواښ سره مخ دي او دوی يې امنيت ساتي.

مګر مونږ وليدل چې د سعودي حکومت دا له ننګه ډک کار او له بې شرمۍ مالا مال منطق چې د حرمينو امنيت د يوه مسلمان او عربي ورور په مقابل کې په صلبيانو او پردو ساتي، په پراخه کچه د سعودي عربستان د ولس، د اسلامي امت او په ځانګړې توګه د ال سعود له خاندان او دربار څخه بهر علماوو چې اسامه بن لادن بيا دا ټکر د ۱۹۹۴ ز کال په اوږدو کې د جګړې تر اعلانه هم ورساوه، وغانده او مخ شو. د سعودي حکومت که څه هم دې له شرمه ډکې معاملې ته تل توجيحات ولټول او د خپل دريځ خلاف خلک يې وټکول؛ خو حقيقت او د تاريخ پرېکړه هغه څه وه چې لا پخوا اعلان شوې وه.

دې ته ورته امريکا په ۱۹۴۱ ز کال کې د هنري بريژنسکي په خبره، په زور او جبر سره جاپان اړويست چې د چين له دوديزې سلطحې رابهر شي او د يوې له ذلته ډکې هوکړې په ترڅ کې يې خپل جګړه مار ځواکونه جاپان ته واستول او مونږ د دويمې نړيوالې جګړې هغه تريخ ناموسي روايتونه او د امريکايي ځواکونو د بدلمنۍ مستندات وليدل، چې هېڅ تاريخ به يې شرافت او رنګ‌بدۍ کله هم جبران نه کړای شي.

دا خو پربېږده چې جاپان په سياسي، اقتصادي او نظامي برخه کې لا هم پر ځان بسيا او دريځ لرونکی نه دی. د ۱۹۷۸ ز کال د سپټمبر په ۱۷مه د مصري ولسمشر انور سادات، د اسراييلو د لومړي وزير مناخيم بيګن او د امريکا د وخت ولسمشر جيمي کارټر تر منځ د کمپ ډېوېډ تړون چې په پايله کې يې سادات د اسراييلو اشغالګر، يهودي صهيونيستي رژيم د لومړني اسلامي او عربي حکومت په توګه په رسميت وپېژانده، د تاريخ په بې خونده پاڼو او بدنامو تړونونو کې تر ټولو زيات او تر ټولو بد نوم او ځای لري.

ځکه د دې بدنام تړون په لاسليک سره مصر د اسراييلو ټولو اشغالګريو، ظلمونو، وحشتونو او ناکردو ته اخلاقي برائت او سياسي مشروعيت د يهودي صهيونيستانو د تاريخي داعيې په توګه ورکړل، د فلسطينيانو ټول حقونه يې تالا کړل او د يوه امت د پېړۍ د قضيې اصلي بحث يې اسراييلو ته چې د يوه خيالي، مصنوعي او د امريکا، انګليس او روسيې د يوه نصب شوي رژيم پر ځای د يوه مخلوع او مشروع حکومت ملت ځايګي ترکچې تثبيت کړ.

د ۱۹۸۳ ز کال د اکتوبر په ۲۵مه امريکا د ګراناډا پر هېواد يرغل وکړ، له داخلي عناصرو سره په يوه توطيه کې يې د هاډسن انقلابي حکومت رانسکور کړ او د پل اسکون په مشرۍ يې يو لاسپوڅی تړون لاسليک کړ، کوم چې لکه د پاناما د امريکا کانګرېس ته يې واک ورکاوه چې کله هم اړتيا ووينې، يايې ګټې له ګواښ سره مخ شي، نو چې څنګه يې زړه وغواړي، نو د امريکا پوځ ته د يرغل او اشغال حق خوندي دی.

ايران له ۱۳۵۱ څخه تر ۱۳۵۵ لمريز کال پورې د امريکا په غوښتنه د ويتنام- امريکا جګړه کې د ايراني پوځ په کچه ښکېل پاتې شوی دی.

د دغې ښکېلتيا تر شا د امريکا د نظامي حضور او هغه بدنام تړون لاس و، چې د يوه ايراني ليکوال تاج الملوک د خاطراتو پر بنسټ، په يوه روايت کې چې د شاه له موره يې نقلولې وايي، چې يوه ورځ محمد رضاه شاه چې ډېر خپه او په فکرونو کې ډوب و، ما ته وويل چې مورجانې! لعنت دې زما په دا ميرات مړي سلطنت شي په داسې حال کې چې زه د دې ملک سلطان او د قواوو علی سر قومندان يم، ولې بيا هم زه په هېڅ خبر نه يم، مګر زمونږ جنګي الوتکې د ويتنام جګړې ته بيايي.

د ليکوال په خبره، هغه مهال امريکا د يوه ناروا حضور او بدنام تړون په پايله کې په ايران کې جګړه مار ځواکونه لرل، نو دوی به زمونږ (ايران) د هېواد له اډو او زمونږ له امکاناتو ډېره زياته ګټه اخيستله. ليکوال زياتوي چې د ويتنام جګړه خو پرېږده حتی امريکا د خپلو ټولو الوتکو او کښتيو لپاره هم وړيا ايراني بنزين او د سون مواده وړل، هغه چاره چې ايران يې په کور د ننه او نړيواله کچه منزوي، له خپل تاريخ څخه منحرف او په ټوله کې د سقوط او ملي شړېدو تر درشله ورساوه.

په ترکيه کې د امريکا نظامي حضور او په ځانګړې ډول هلته د امريکا د هوايي اډې انجرليک او ۵۰ اټومي خوليو وجود، تل د دغه هېواد له ولسي حکومتونو نيولې بيا د سيمې تر ګاونډيو ملکونو سوريې او ايران ته سرخوږی جوړ کړی دی.

د د غه شک؛ شرم او ترديد هغه وخت پر واقعيت بدل شو کله چې د ۲۰۱٦ ز کال د جولای په ۱۵مه په پوځ کې د ګولن غرېپالو او توندلارو سيکولارو عناصرو د ترکيې پر قانوني نظام او منتخب ولسمشر رجب طيب اردوغان باندې يوه ناکامه او بدنامه کودتاه وکړله.

د کودتاه په لومړيو ساعتونو کې څرګنده شوه چې د کودتاه کرغېړن عوامل ټول د انجرليک په امريکايي اډه کې راټول شوي او له دې ځايه د ترکيې ولسمشر د وژلو طرحه پرمخ وړي او هغه چورلکې چې د ولسمشر اردوغان د وژلو لپاره جنګېږي او ولسمشرۍ ماڼۍ بمباروي؛ د اناډولي مېشتې امريکايي انجرليک اډې څخه منظم کوردينات تر لاسه کوي.

دا ډول بورږنوونکي او خاينانه بېلګې زمونږ د ګران وطن په تاريخ کې هم کمې نه دي، چې هېواد مو ويران شوی، ټوټه شوی، پاشل شوی او د دغسې استخباراتي او يرغلګرانه توطيو پايله همدا نن له بې اتفاقۍ، ويرانۍ او يرغل سره مخ افغانستان دی.

د بېلګې په توګه، د امير يعقوب خان له لوري د ګندمک، د امير عبدالرحمن خان له لوري د ډېورنډ، د شاه شجاع او کارمل له لوري د شومو تړونونو په پايله کې د فرنګي او تزاري لښکرو يرغل او همدا ډول په دې نږدې تاريخ کې د امريکا اشغال او بيا همدغه يرغل ته د ډاکټر غني له لوري د خپل کار په لومړيو ۲۴ ساعتونو د ننه کې د افغانانو د وژلو او د اشغال د قانونيت په موخه بدنام او له تراژيديو ډک امنيتي عنوانه تړون لاسليک کول وو.

هغه بدنام او غلام تړون چې په ترڅ کې يې زمونږ په هېواد کې موجود اساسي قانون دا که د عامه حقوقو تعريف او يا د حقوقو او وجايبو پر بحث کې د همدغه انساني، اسلامي او ملي حقونو تضمين و؛ باطل کړ او د هېواد واکمن عدلي او قضايي قوانين يې د ريشخند تر کچې بې ارزښته او سپک کړ. د بېلګې په توګه، اساسي قانون د افغان انسان کرامت له تېرې خوندي بللی او د هغه قضايي- ټولنيز مصؤنيت يې يوازې د باصلاحيته محکمې له لوري د پوښتنې وړ بللی؛ مګر له امريکا سره په امنيتي تړون کې نه يوازې دا چې د شک او ګومان په صورت کې بهرنی عسکر چې امريکايي هغه يې مطرح دی، دغه اصل مانا نه لري؛ بلکې د افغان انسان قاتلانو ته د هر ډول جنايت په صورت کې اصل په برائت دی او د افغانستان حاکم قوانين د دغو قاتلانو پر وړاندې عاجز او يوازې د هغه چا پر وړاندې د اجرا وړ دی، چې د امريکا حضور، اشغال، د موجوده دوه سري حکومت لعنت، مېکر د جګړې ټېکدار او د حاکمې مفسدې او فتنه کښې کړۍ جنايتونه، خيانتونه او وحشتونه غندي او د دې ادعا لري چې ملتونه له پردو سره د بدنامو غلامو او له ذلت څخه ډکو تړونونو او معاملو له لارې نه شي پالل کېدای.

د دغو مختلفو بېلګو په رڼا کې يوه خبره واضح کېږي، چې لکه څنګه چې د يرغلګرو ځواکونو اخلاقي توجيحات د هر يرغل او تاړاک په پای کې د خپل حقانيت د دوام رنګ بايللی، دا ډول به د يرغلګرو او د هغوی د لاسپوڅو حکومتونو کاذب، له دوکې او پراڼه ډک وجود په برخه کې هم ملتونه هغه ډول دريځ ونيسي، لکه څنګه چې تاريخ يې له بېلګو مالامال دی. افغان ملت د انساني او خپل وياړمن تاريخ په دريځ کې يوځل بيا پر همداسې يوه برخليک ټاکونکي موقف کې قرار لري، چې تاريخ بدل کړي، د امنيتي تړون په څېر د اشغال ګردونه څنډ وهي او په ټوله کې هرڅه د يوه خپل اختياره افغانستان په سيوري کې وپالي.

# د ولسمشريزو ټاکنو لومړنۍ پايلې:

## کمېسيون ولسمشر غني مخکښ اعلان کړ، خو نورې ټاکنيزې ډلې پايلې نه مني



ثبت وشمارش عمومی

| نام کاندید | رای | % |
| --- | --- | --- |
| محمد اشرف غنی | 923,868 | 50.64 |
| دکتور عبدالله عبدالله | 720,990 | 39.52 |
| گلبدین حکمتیار | 70,242 | 3.85 |
| رحمت الله نبیل | 33,921 | 1.86 |
| دکتور فرامرز تمنا | 18,066 | 0.99 |
| سید نورالله جلیلی | 15,526 | 0.85 |
| عبداللطیف پدرام | 12,608 | 0.69 |
| عنایت الله حفیظ | 11,374 | 0.62 |
| محمد حکیم تورسن | 6,504 | 0.36 |
| احمد ولی مسعود | 3,942 | 0.22 |
| محمد شهاب حکیمی | 3,324 | 0.18 |
| پوهاند پروفیسور دوکتور غلام فاروق نجرابی | 1,606 | 0.09 |
| محمد حنیف اتمر | 1,565 | 0.09 |
| نور رحمان لیوال | 865 | 0.05 |



د ټاکنو خپلواک کمېسيون له مياشتو ځنډ وروسته، پرون پر دې بريالی شو چې لومړنۍ پايلې اعلان کړي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون مشرې حوا علم نورستانۍ وويل چې دا لومړنۍ پايلې دي او نوماندان کولی شي خپل شکايتونه د ټاکنيزو شکايتونو له خپلواک کمېسيون سره ثبت کړي. د دې شکايتونو تر څېړلو وروسته به وروستۍ پايلې هم اعلانېږي. له دې سره هممهاله نړيوالو بنسټونو او ټاکنيزو ډلو د پايلو پر اعلان غبرګون ښودلی دی. يوناما د اعلان هرکلی کړی دی او پر خلکو يې غږ کړی چې د پاتې پړاوونو له بشپړولو سره همکاري وکړي. ځينې ټاکنيزې ډلې بيا کمېسيون د ځانګړې ټاکنيزې ډلې پر ملاتړ تورنوي. د افغانستان ولسمشريزې ټاکنې په يوه جنجالي سياسي فضا کې تر سره شوې، خو په کمېسيون کې له ميليونونو ډالرو لګښت او نوې ټکنالوژۍ سره سره، د لومړنيو پايلو اعلان مياشتې وځنډېد. پرون کمېسيون په يوه خبري غونډه کې لومړنۍ پايلې اعلان کړې. د کمېسيون په پايلو کې ولسمشرغني بريالی اعلان شو او تر پنځوس سلنې يې ډېرې رايې خپلې کړې دي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون مشره حوا علم نورستانۍ وايي چې محمد اشرف غني ۵۰،٦۴ سلنه رايې خپلې کړې دي او تر نورو نوماندانو مخکښ دی. په دې حساب هغه بريالی شوی چې (۹۲۳۸٦۸) رايې يې خپلې کړې دي. د نوموړي سيال او بل مخکښ نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله بيا اووه لکه ۲۰ زره او ۹۹ رايې ګټلې دي چې د رايو سلنه يې ۳۹،۵۲کېږي.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي، دا وروستۍ پايلې نه دي او د دې امکان شته چې په وروستيو پايلو کې تغيرات راشي. حوا علم نورستانۍ وويل چې نوماندان کولی شي د قانون له حکم سره سم خپل شکايتونه ثبت کړي. هغې وويل: ((دا وروستۍ پايلې نه دي، محترم نوماندان کولی شي د قانون مطابق خپل شکايتونه، د ټاکنيزو شکايتونو له خپلواک کمېسيون سره ثبت کړي)).

بلخوا نړيوالو بنسټونو او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه دفتر هم پر پايلو غبرګون ښودلی دی. يوناما په خبرپاڼه کې د تاداميچي ياماموتو له قوله ويل شوي، چې دوی د کمېسيون له لوري د پايلو د اعلان هرکلی کوي. نوموړي ويلي، افغانانو په سختو شرايطو کې خپله رايه وکاروله او اوس د کمېسيونونو مسووليت دی چې شفافيت تامين کړي. نوموړي په ټاکنيز بهير کې پر ټولو ښکېلو اړخونو غږ کړی چې د دغه بهير له بشپړتيا سره اړينه او هر اړخيزه همکاري وکړي. هغه ويلي: ((اوس ټول افغان چارواکي او ښکېل اړخونه بايد د ټاکنو د خونديتوب او بشپړېدو لپاره خپله ژمنه څرګنده کړي، چې د دغه بهير د وروستي پړاو د بشپړتيا ساتنه وشي)).

ياماموتو دغه راز له کمېسيونونو غوښتي چې د خپلې وروستۍ پرېکړې لپاره قانوني او تخنيکي دلايل ولري. د ده په باور، وروستۍ پرېکړه بايد د قانون پر بنسټ شوې وي او ټولو اړخونو ته د منلو وړ وي. هغه همدا راز ټينګار کړی چې ټول مسايل بايد افغانانو ته واضح کړل شي.

په کابل کې د امريکا سفير جان باس هم بيا د پايلو پر اعلان خوښي څرګنده کړې او هرکلی يې کړی دی. هغه بيا ويلي چې دا وروستۍ پايلې نه دي او د وروستيو پايلو اعلان څو پړاوونه لري چې خلک بايد ورته په تمه وي.

له دې سره ډېرو ټاکنيزو ډلو پر دغه اعلان غبرګون ښودلی دی. د ولسمشر غني ټاکنيزې ډلې پرون په ارګ کې په يوه غونډه کې د پايلو د اعلان هرکلی وکړ. ولسمشر غني خپلو پلويانو ته د وينا پر مهال وويل چې ملت د ټاکنو اصلي ګټونکی دی او خلکو پر دوی باور کړی دی. د ده په خبره، دوی ټاکنو ته زمينه برابره کړه او ټولو قانوني مراحلو ته يې درناوی کړی دی او د کمېسيونونو راتلونکو قانوني پرېکړو ته هم درناوی کوي.

بلخوا د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ ټاکنيزې ډلې بيا ويلي چې دا دې درغليو پايلې وې او په خبره يې دوی ته د منلو وړ نه دي. د دې ډلې له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې کمېسيون د دوی وړانديزونو او شکايتونو ته پام نه دی کړی او له درغلۍ ډکې پايلې يې اعلان کړې دي؛ نو ځکه ورته د منلو وړ نه دي.

له دې سره هممهاله د ولسمشريزو ټاکنو بل نوماند رحمت الله نبيل هم د لومړنيو پايلو اعلان له ستونزو ډک بللی او په خبره يې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ولسمشر غني د ټاکنيز ټيم ملاتړ کړی دی او د هغه په پلويتوب يې لومړنۍ پايلې اعلان کړې. دا هغه تورونه دي چې تر دې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسيون په ځلونو رد کړي دي او ځان خپلواک بولي.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریېمه برخه

افغانستان

**لسم څپرکی**

**په لوی کندهار کې نوي طالبان**




دې ته ورته یوه مقاله د طالبانو پر وېبپاڼه هم خپره شوې وه چې له مخې یې له افغان تاریخ څخه د طالبانو د تحریک اند له ورایه څرګندېده. د مقالې عنوان په دې توګه و؛ (د شهید د جنازې خبرتیا)، لیکنه د ۲۰۱۲ز کال په مې کې د کابل او واشنګټن د ستراتیژیکو اړیکو پر هوکړه لیک نیوکه کوي چې بارک اوباما او حامد کرزي د افغانستان د دریو پېړیو خپلواکي شهیده کړه. په دې لیکنه کې د برېټانویانو او روسانو پر ضد د جنګېدونکو بریالیو څېرو نومونه هم خپاره شوي وو. په دې لړلیک کې د افغانستان د ۱۹مې او ۲۰مې پېړۍ اتلې څېرې د ځینو ښځو او طالبانو د وژل شوو مشـرانو په ګډون خپرې شوې وې. دا ډېره ویښوونکې وه چې له دې لړلیک څخه یې د شاه امان الله خان او نادرخان نومونه لیرې کړي وو.

د طالبانو د رسنیزو فعالیتونو په لړ کې هغوی په پرلپسې توګه د امریکا د متحده ایالتونو او افغان حکومت پر تګلارو نیوکې کوي. د دې ډول فعالیتونو یوه بېلګه، په دې سرلیک (په افغانستان کې بله جګړه روانه ده) په پښتو ژبه خپره شوې مقاله وه. په دې مقاله کې ځینې جملې په دې توګه دي: ((امریکا د افغانستان لپاره ولسواکي د حل لارې په توګه ټاکلې. د دې سېستم پر بنسټ د انسانانو هوښیارۍ، وړتیا او تقوا ته نه کتل کېږي، بلکې له هغوی سره د حیواناتو په څېر چلند کېږي.)) مقاله لیکي: ((د اسلام دین د هرڅه لپاره هر اړخیز نظام لري چې د مسلمانانو د ژوند لپاره اړین اصول وړاندې کوي. افغانان په خپله ټولنه کې هېڅکله ولسواکۍ ته اړتیا نه لري. مسلمانان خدای مکړه هغه مهال ولسواکي ټاکلای شي چې له اسلام څخه ووزي.)) په دې لیکنه کې پر افغان اساسي قانون هم نیوکه شوې چې ګني د شریعت د پلي کېدو مخه نیسي: ((اوسنی اساسي قانون د ولسواکۍ او د بشري حقونو د خوندیتوب تضمین کوي. څرګنده خبره ده چې ولسواکي او د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، دواړه غربي قراردادونه دي. د هغوی په موجودیت کې اسلامي شریعت له ګواښ سره مخ دی.))

د طالبانو د تګلارو اساسي برخې د دواړو اخترونو د مراسمو پر مهال خپرېږي. د ۲۰۱۰ز کال په نوومبر کې ملا محمدعمر د لوی اختر د پیغام په ترځ کې خپلې سیاسي موخې واضح کړې:

((موږ د راتلونکي لپاره د یوه ځواکمن او خپلواک اسلامي نظام جوړولو لپاره کار کوو. داسې نظام به جوړوو چې اقتصادي، امنیتي، حقوقي، پوهنیز او قضایي سېستمونه یې پر شریعت ولاړ وي. دا سېستم به له پوهو، تجربه لرونکو او مسلکي کسانو سره پر مشورې جوړېږي. په دې سېستم کې به د ټولو پوهو، ایماندارو، تجربه لرونکو او مسلکي کادرونو حقوق د هر ډول سیاسي، قومي او ژبني توپیر پرته خوندي وي. د هغوی د وړتیا او ایمانداري له مخې به دولتي دندې ورکړل شي. د شریعت له مخې به د ښځو په شمول ټولو خلکو ته حقونه ورکړل شي. موږ به کورنی امنیت خوندي کړو، د بې عدالتۍ او هر ډول منکراتو مخه به ونیسو. موږ به په حکومت کې د روڼتیا لپاره حساب ورکوونکی قانون پلی کړو.))

وروسته له هغه چې ناټو په ۲۰۱۴ز کال د خپلو ډېر شمېر سرتېرو د ویستلو پرېکړه وکړه، د طالبانو په دریځ کې هم نرموالی راغی. د ۲۰۱۱ز کال د اګسټ میاشتې د وړوکي اختر په پیغام کې ملا محمدعمر وویل: ((زموږ د دښمنانو تبلیغات ناسم دي، موږ هېڅکله د قدرت د انحصار موخې نه لرو. افغانستان د افغانانو ګډ کور دی، هغوی ټول په سیاسي سېستم کې د ګډون حق لري. راتلونکی انتقال به داسې نه وي لکه د کمونېستي رژیم له ړنګېدو وروسته چې زموږ ټول دولتي بنسټونه له منځه لاړل.


افغانان د بهرنیانو د لاسوهنو په نه شتون کې د کورنیو شخړو د حل خورا لویه مخینه لري. اسلامي امارت د بهرنیانو د اشغال پر ضد د خپلې عقیدې او خاورې ننګه کوي. د شخړو تر شا د اشغالګرو نظامیانو موجودیت دی. که نړیوال خپل نظامي اشغال پای ته ورسوي، حاضر یو، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره ښې اړیکې جوړې کړو.)) د ۲۰۱۲ز کال په اګسټ کې د وړوکي اختر په پیغام سره طالبانو خپلې سرې کرښې څرګندې کړې: ((د افغانستان خپلواکي او اسلامي شریعت هغه دوه بنسټیز مسائل دي چې امارت یې په اړه هېڅ کله مذاکرات نه کوي.))

د طالبانو پر رسنیزو هڅو سربېره بیا هم د نړیوالو فکر د افغانستان په اړه نه بدلېده، ځکه پر طالبانو تور دی چې د پاکستان او په ځانګړې توګه د پاکستان د پوځ له لوري یې ملاتړ کېږي. د طالبانو په ډېرو لیکنو کې له پاکستان سره د هغوی د اړیکو چاره ګونګه ده. په افغانستان کې د اسلام‌اباد پر لاسوهنو سترګې پټوي. همدا یې د پاکستاني طالبانو له تحریک، القاعدې او د ازبکستان اسلامي غورځنګ سره توپیر دی، ځکه دا سازمانونه له پاکستاني پوځ سره جګړه کوي او د پاکستان مشـران له امریکا سره د اړیکو له کبله پر مرتد کېدو تورنوي.

**دوام لري...**

# کمبودیا

حشمت الله نوري



کمبودیا د آسیا په جنوب- ختیځ کې د هند و چین په ټاپووزمه کې د شمالي عرض البلدونو د ۱۰ او ۱۴ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۱۰۲ او ۱۰۵ درجو تر منځ موقعیت لري، چې ټول پراخوالی یې ۶۹۸۹۸ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۹۰یم لوی هېواد بلل کېږي.

د کمبودیا شمال ته تایلند او لاوس، جنوب ته ویتنام او د سیام خلیج، ختیځ ته هم ویتنام او لوېدیځ ته یې تایلند موقعیت لري. د جنوبي چین او د سیام یا تایلند د خلیج له اوبو سره د نږدېوالي له امله، د کمبودیا اقلیم لږ تود، لوند او باراني دی.

د طبیعي جوړښت له مخې دغه هېواد د غرونو څو ټیټې لړۍ لري، چې زیاتره د دغه هېواد په شمالي پولو کې پرتې دي. د کمبودیا منځنۍ برخې هوارې دي او ځمکې یې ښه حاصل ورکوي. د اسیا د جنوب- ختیځې برخې یوازینۍ لوی جهیل تونلي سپ د کمبودیا په منځنیو برخو کې موقعیت لري.

د دغه هېواد پلازمېنه د پنوم پن ښار دی او ټولټال څه باندې ۱۵ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۴۰ کسان ژوند کوي.

د کمبودیا ۸۰ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې ۲۹ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

کمبودیا د اداري وېش له پلوه پر ۲۳ ولایتونو او یوه ښاروالۍ وېشل شوې ده. باتامبانک، کمپونګ، کراتي، سامبور، کاس کوتګ، جام او بورسات د دغه هېواد لوی او مهم ښارونه دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول مشروطه پاچایي ده. د کمبودیا اوسنی اساسي قانون د ۱۹۹۳ ز کال د سپټمبر په ۲۱مه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی پاچا نورودوم سیهاموني دی. په کمبودیا کې حکومتي واک د لومړي وزیر هون سن په لاس کې دی. د کمبودیا لومړی وزیر او د کابینې وزیران د پاچا له خوا ټاکل کېږي.

د دغه هېواد پارلمان دوې جرګې لري، سنا جرګه یې ٦١ غړي لري چې دوه د پاچا، دوه د ملي شورا او ۵۷ د پارلماني ډلو له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي او ملي شورا یې هم ۱۲۳ غړي لري او د پنځو کلونو لپاره د خلکو په خوښه ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې رایه ورکول عمومي او د رایې ورکولو سن په کې ۱۸ کاله ټاکل شوی دی.

د کمبودیا حقوقي نظام پر هغه مدني قانون ولاړ دی، چې په دغه هېواد کې د ملګرو ملتونو د انتقالي ادارې د مشرتابه په وخت کې جوړ شوی و. دغه قانون فرانسوي حقوقپوهانو لیکلی دی. همداشان پاچایي فرمانونه او هغه پخواني قوانین چې په کمبودیا د کمونیستانو د واکمنۍ په وخت کې جوړ شوي وو، د دغه هېواد په حقوقي نظام او پرېکړو کې ځای لري.

د دغه هېواد په نوي اساسي قانون کې د قضا عالي شورا شته چې د ۱۹۹۷ ز کال په ډسمبر کې عملاً جوړه شوه. ستره محکمه د کمبودیا د قضا تر ټولو لوی ارګان دی. کمبودیا له دې لاندې د استیناف محکمې، ابتدایه محکمې، سیمه ییزې او سوداګریزې محکمې لري.

دغه هېواد د ۱۹۵۳ ز کال د نومبر په نهمه له فرانسې څخه خپلواکي واخیسته او اوس هر کال همدا ورځ  د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

د ۲۰۰۴-۲۰۰۷ ز کلونو تر منځ د کمبودیا اقتصادي وده هر کال ۱۰ سلنه وه، په دې کلونو کې دغه هېواد ته د سیلانیانو شمېر ډېر شو، ساختماني چارې پر مخ لاړې، د جامو صادرات زیات شول او د کرنې په تولیداتو کې ښه والی راغی. په ۲۰۰۹ ز کال کې د کمبودیا ناخالص کورني تولیدات د نړیوال مالي بحران د اغېزو له امله ولوېدل، خو په ۲۰۱۰ ز کال کې پرمختګ وشو او جي ډي پي څلور سلنه لوړ شو؛ ځکه چې د کمبودیا د جامو صادرات ډېر شول، د دې ډېروالي لامل هغه تړون و چې کمبودیا له نړیوال تجارتي سازمان سره د ټوکرانو او جامو د صادرولو په برخه کې لاسلیک کړی و. دې تړون کمبودیایي مؤلدین هڅولي وو چې د چین، هند، بنګله دیش او ویتنام بازارونو ته ارزانه جامې جوړې کړي. د دغه هېواد د جامو جوړولو سکټور اوس ډېر کارګران لري چې د ټول هېواد پنځه سلنه کارګران کېږي او د هېواد ۷۰ سلنه صادرات برابروي.

د کمبودیا په شمالي سیمو کې کاني زېرمې هم ډېر پانګه وال هڅولی شي، قېمتي کاڼي، سره زر او اوسپنه په دې زېرمو کې وتلي ځایونه لري. دغه هېواد او امریکا د سوداګرۍ او پانګونې دوه اړخیزه تړون لري. په دې تړون کې څو ځلې خبرې شوې دي چې د کمبودیا د ربړ صادرات یې ډېر کړل. دغه هېواد ته د بهرنیو سیلانیانو تګ هم ډېر شوی دی، هر کال دغه هېواد ته تر دوو میلیونو ډېر سیلانیان ورځي، د کمبودیا دولت له ای ام اف بانک او نورو بهرنیو مرسته ورکوونکو سره له نږدې کار کوي، چې د هېواد د سترو پروژو لپاره پیسې پیدا کړي. په دغه هېواد کې د اقتصاد خصوصي سکټور لا ډېر پیاوړی نه دی. دا سکټور کولی شي چې ډېرو ځوانانو ته کار پیدا کړي. د کمبودیا ۵۰ سلنه نفوس ځوان دی چې ډېر یې لوړې زده کړې او کاري تخصص نه لري. داستونزه د کمبودیا په کلیوالو سیمو کې ډېره لویه ده، هلته چې اقتصادي بنسټونه کمزوري دي، دا ستونزه ژر حل کېدل غواړي او که نه، هېواد له سیاسي ستونزو سره مخ کولی شي.

دغه هېواد د سوداګرۍ د نړیوالې ټولنې غړیتوب تر لاسه کړی دی، دې تړون کمبودیا ته هم ګټې درلودې هم زیانونه. یو زیان یې دا و چې د کمبودیا د ټوکرانو او جامو پرمختلونکی سکټور یې د چین او هند ارزانه او ښکلو ټوکرانو او جامو له سیالۍ سره مخ کړ او داسې وېره یې پیدا کړه، چې کمبودیایي ښځینه او نارینه کارګران به خپل کارونه لا لاسه ورکړي او د هېواد لوېدیځ ته د خپلو ټوکرانو او جامو د صادرولو د سترو تړونونو د تطبیق په برخه کې به له ډېرو ستونزو سره مخ شي.

کمبودیا په هغو کلونو کې ژمنه کړې وه چې د خپلو کارګرانو معاشونه به ځکه جګ ساتي، چې وکولی شي خپل تولیدات له نړیوالو معیارونو سره برابر وساتي.

استهلاکي مواد، د خوراکي موادو پروسس لکه د وریجو ژرندې او د کبانو کنسرو کول، ټوکران، سیمنټ، د لرګیو پروسس او لرګین شیان، ربړ، د قېمتي کاڼو پروسس او نور د دغه هېواد مهم صنعتي توکي دي.

د کمبودیا ۲۲ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، د دغه هېواد پاتې نوره خاوره څرځایونو، ځنګلونو، غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې سیمو نیولې ده.

د دغه هېواد ٦٠ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

وریجې، تنباکو، پنبه، وربشې، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات او هګۍ د کمبودیا مهم کرنیز حاصلات بلل کېږي.

د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۸۵۵ او د انټرنېټ کود یې KH دی، چې ټولټال یې یو میلیون کسان ورته لاسرسی لري.

په کمبودیا کې دولتي عامه او خصوصي رسنۍ ټولې څنګ په څنګ کار کوي، په دغه هېواد کې ډېر ټلوېزیونونه او راډیوګانې فعالیت کوي.

د دغه هېواد له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۵ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهېږي.په دغه هېواد کې زده کړې له ۷- ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیوځوانانو لپاره جبري او وړیا دي.

د کمبودیا نوم د یوه حکیم له نامه څخه اخیستل شوی، چې د کامبو له اولادې څخه و او د دغه سیمې لومړنی پاچا بلل کېږي.

په لومړۍ میلادي پېړۍ کې د کمبودیا په اوسنۍ خاوره کې د هندي مهاجرینو پاچایي جوړه شوه. د کمبودیا د هغه وخت اصلي اوسېدونکي خمر نومېدل. خمر له دې څخه مخکې له شمالي سیمو څخه کمبودیا ته لېږدېدلي وو او د هغه هندي او چیني سوداګرو د فرهنګ تر اغیز لاندې وو، چې کمبودیا ته به یې سفرونه کول.

په دویمو او دریېمو م پېړیو کې کمبودیایي مشرانو د چین دربار ته سوغاتونه استول او په دې توګه یې د هغوی اطاعت کاوه. له بلې خوا همدا مشران له هند سره نږدې پاتې کېدل او د هند د سترو کورنیو له نجونو سره یې ودونه کول. په کمبودیا کې یې د هندي فرهنګ له پراختیا سره مرسته کوله او د هندوانو د شیوا درناوي او لمانځنه یې هڅوله.

په دویمه نړیواله جګړه کې هغه وخت چې الماني پوځونو پر فرانسه یرغل وکړ، جاپاني پوځونو له فرانسې؛ هند او چین ونیول. په ۱۹۴۰- ۱۹۴۱ ز کلونو کې فرانسوي چارواکو ١٦ کلن کمبودیایي شهزاده د کمبودیا د پاچا په توګه اعلان کړ. فرانسویانو په هغه وخت کې تمه درلوده چې د شهزاد په وجود کې به د ملک اداره آسانه شي، خو کله چې نړیواله جګړه پای ته ورسېده او جاپاني پوځونه له هند و چین څخه ووتل، شهزاده نور دوځ په بېړه د خپل هېواد خپلواکي اعلان کړه. په ۱۹۴۵ ز کال کې فرانسویانو ژر غبرګون وښود، د هند و چین سیمه یې بېرته ونیوه او د نیواکګرو په ۱۹۴۷ ز کال کې د کمبودیا نوی اساسي قانون تصویب او سیهانوک پاچا شو. دوه کاله وروسته فرانسې موافقه وکړه چې کمبودیا ته به کورواکي ورکړي، خو پر فرانسوي پوځونو باندې د ویتنامیانو درندو ګوزارونو د کمبودیا له خپلواکۍ سره مرسته وکړه. په ۱۹۵۳ ز کال نوردوم سیهانوک پاچایي خپل پلار ته پرېښوده او د خلکو سوسیالېست ګوند یې جوړ کړ. په ۱۹٦٠ ز کال کې د سیهانوک پلار مړ شو او ځای یې بېرته پخواني پاچا ونیو. د امریکا او ویتنام د جګړو په لومړنیو کلونو کې کمبودیا ناپېیلیتوب وښود، خو په ۱۹٦۵ ز کال کې یې د چین او روسیې پلو ونیو او له امریکا سره یې خپلې سیاسي اړیکې پرې کړې.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت کتاب «افغانستان و جهان» کې د دغو دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي اړیکو په اړه څه نه دي لیکل شوي او داسې ښکاري چې کومې رسمي او سیاسي اړیکې نه لري.

له افغانستان څخه تر کمبودیا پورې د هوا له لارې فاصله ۴۴۵۱ کیلومتره او همدا راز د کابل او پنوم پن ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۲:۳۰ ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۵۰ |
| € | ۸۶,۷۰ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۱,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# غواړې چې ملگري مو زیات شي؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

بې له شکه چې «یوازیتوب» خوند لري؛ ځکه کولای شی د خپلې خوښې چارې لکه فکر کول، کتاب لوستل، شعر لیکل او دې ته ورته نور کارونه په یوازیتوب کې تر سره کړی.

که غواړې چې خپلو موخو ته تنوع او نوښت ورکړې او د ځان لپاره بالقوه ملگري پیدا کړې، ستاسو په شاوخوا کې په میلیونونو کسان شته چې ستاسو په څېر موخې لري. نو که غواړې د ځان لپاره ډېر د خپلې خوښې او دایمي ملگري پیدا کړې، نو دغه ټکي په پام کې ونیسئ:

**۱- د خلکو په منځ کې وخت تېر کړئ**

که غواړې چې ملگري پیدا کړې، نو یوازیتوب پرېږدئ او له کوره ووځئ؛ ځکه تر دې چې په کور کې د ټلوېزیون تر شا ناست یاست او په دې تمه یاست چې ملگري به پیدا کړې، دا ښه ده چې په ځینو مجلسونو کې هم په روحي او هم په فزیکي ډول گډون وکړئ.

د بېلگې په توگه، په ورزشي کلپ کې نوملیکنه وکړئ، کېدای شي هلته داسې کسان پیدا کړې چې گډ او مشترک ټکي ولری، په اصل کې له هغو کسانو سره ملگري تر ډېره دوام پیدا کوي چې ډېرې مشترکې وجې ولری؛ ځکه که گډ ټکي مو له یو بل سره زیات وي، کېدای شي چې په ځینو مسایلو کې سره ټکر شی.

په خپله خوښه او خیریه کارونه تر سره کول هم د ملگرو او دوستانو د پیدا کولو لپاره تر ټولو غوره لاره ده، چې په دې چارو کې له ډېرو کسانو سره مخ کېږی. د دې ډول گډو کارونو په تر سره کولو سره کولای شی له زیاتو خلکو سره اړیکه ونیسی او خپل نظرونه ورسره شریک کړی.

**۲- خبرې تاسو پیل کړئ**

کولای شی په یوه ورزشي گروپ، مرستندویه ټولنه او یا هم د انټرنېټ له لارې په یوه ټولنه کې غړې شی، خو ځو چې په خبرو کولو پیل ونه کړی، نه شی کولای د ځان لپاره ملگري او دوستان پیدا کړی. تر ډېره هڅه وکړئ چې په لومړي سر کې د خبرو کولو پر مهال موسکي شئ؛ ځکه که تاسو په تروشه تنده له یو چا سره خبرې پیل کړی، کېدای شي مقابل کس چندان ارزښت در نه کړي، خبرې په ورین تندي پیل کړئ، لومړنۍ خبرې مو باید د مهربانۍ او احترام له جملو ځخه ډکې وي.

**۳- خپل ځان ور وپېژنئ**

د لومړنیو خبرو په پای کې خپل ځان ور معرفي کړئ او په ساده گۍ سره ووایئ: «رښتیا زما نوم... دی» کله چې تاسو خپل ځان معرفي کړ، بې له شکه چې مقابل کس به هم خپل ځان درته معرفي کړي او په دې سره به ستاسو دواړو تر منځ د دوستۍ یوه خښته کېښودل شي.

**۴- د کتلو وخت وټاکئ**

د بیا لیدلو لپاره سره وخت وټاکئ؛ تاسو کېدای شي له یو چا سره وگورئ، ځان ور معرفي کړئ، که د دویم ځل لپاره ورسره ونه گورئ، کېدای شي رابطه او اړیکه مو همداسې سره پاتې شي. د بیا لیدلو لپاره وخت ټاکل ډېر کله هغه وخت تر سره کېږي چې دواړه خواوې د دوستۍ لپاره میل ولري. دغه وخت له لاسه مه ورکوئ، کولای شی ورته ووایاست: زه باید ولاړ شم، که غواړې نورې خبرې هم وکړو، کېدای شي بل ځل سره وگورو، داسې وخت چې دواړه په کاپې اندازه وخت ولرو، اجازه راکړئ چې د خپل ټلیفون شمېره درکړم.

په دې سره هغوی ته اجازه ورکوی چې له تاسو سره اړیکه ونیسي، کېدای شي هغوی هم دغه ډول چلند درسره وکړي، خو که داسې وشي، تر گردو ښه خبره ده. که مقابل کس له خپلو نوو دوستانو سره د بیا لیدلو وخت نه لري او ستاسو لپاره یې ځواب منفي وي، له دغه چلند ځخه یې مه خواشیني کېږئ. دغه راز که مقابل کسه د بیا لیدلو لپاره لېوالتیا ونه ښوده، تاسو پرې ټینگار مه کوئ.

**۵- هڅه وکړئ چې ښه ملگری شی**

کله چې له یوه چا سره نوي ملگري کېږی، هڅه وکړئ چې په اړه یې بشپړ معلومات تر لاسه کړی، له ورځنیو کارونو او د خوښې ور له فعالیتونو یې ځان خبر کړئ.

**٦- وخت پېژندونکي و اوسئ**

له وعدې سره سم ټاکلې ځای ته ځان ورسوئ او که کله مو ناوخته کړه، په بد خلقۍ سره ځواب مه ورکوئ. هېڅکله هم ځوک په تمه مه پرېږدئ دا یوه بې ادبي ده او د یوې نوې دوستۍ لپاره ښه پیل نه شي کېدای.

هره کله چې له یوه چا سره د یوه کار د کولو وعده کوی، نو وعده خلافي مه ورسره کوئ.

**۷- ښه اورېدونکي و اوسئ**

د نورو خبرو ته غوږ نیول، د خوښې ور لوبو پوښتنه کول تاسو ته اجازه درکوي چې مقابل کس پوره وپېژنی.

هڅه وکړئ داسې وښیئ چې ژوند مو له هر ډول ستونزې پاک او ښه پر مخ ځي.

د خبرو کولو پر مهال یو دم موضوع مه بدلوئ، دا هم مه هېروئ چې د خبرو اهنگ او ریتم مو یو ډول وي، مانا دا چې د خبرو کولو اواز مو ټیټ او جگ نه شي.

تل د خلکو راز وساتئ، ځو نور هم دربانديې باور وکړي.

د خپل ځان او باورونو په اړه صادق و اوسئ، له شایعاتو ځخه ډډه وکړئ او کوم څه چې اوری، باور مه پرې کوئ، ځو تاسو د نورو لپاره د اعتماد وړ کس و اوسی او ستاسو په شتون کې د راحتۍ احساس وکړي.

که ملگري مو په کوم کار کې د مرستې اړتیا درلوده، له خپل وس سره سم مرسته ورسره وکړئ.

یادونه: ځینې وخت کېدای شي ستاسو ملگري داسې یو کار تر سره کړي چې ستاسو د خوښې خلاف وي، د بېلگې په توگه، له داسې چا سره ناسته ولاړه کوي چې تاسو یې نه غواړی، نو لازمه نه ده چې خپل ملگری له دې ډول کړنو را وگرځوی او له هغه ځه یې منعه کړی، له دې چې ستاسو نه خوښېږي.

کله چې نوي دوستان پیدا کوی، زاړه شاته مه پرېږدئ؛ ځکه دغه کار یوه ستره تېروتنه ده. کېدای شي ستاسو دوستان د مختلفو ټیپونو درلودونکي وي، نو لازمه نه ده چې د یوه دوست لپاره بل پرېښودل شي، هڅه وکړئ چې له هر یوه سره جوړ راشی.

تل باید دا هڅه درسره وي چې نوي دوستان ولټوئ، دا هم باید په یاد وساتئ چې زاړه دوستان در نه هېر نه شي.

نوي ملگري سپینو زرو ته ورته دي، خو زاړه بیا لکه سره زر داسې دي.

هڅه مه کوئ چې د پیسو او ډالیو په اخیستو سره د ځان لپاره نوي ملگري پیدا کړی، که څه هم چې د ملگرو لپاره ډالۍ ورکول ښه او پر ځای کار دی، خو په دې ډول سره نوي دوستان پیدا کول یوه موقتي چاره ده، نه دایمي.

ښه ملگری هغه دی چې هغوی هم په یوه مناسبت او یا هم بې له کوم مناسبته ستاسو لپاره ډالۍ واخلي.

لوستونکیه: د ښو دوستانو لرل لویه مینه ده، نو د خپلو دوستانو قدر وپېژنه!

ښه دوست په بده ورځ معلومېږي.

## سرچینې: د سولې له هوکړې سره به جوخت لنډمهالی اوربند هم وشي

طالبانو ته نږدې سرچینو ویلي چې له قطر څخه د شهاب الدین په مشرۍ د طالبانو درې کسیز پلاوی پاکستان ته له خپلو مشرانو سره د لیدنې لپاره تللی او د تاوتریخوالي کمېدو او اوربند په اړه سره هوکړې ته رسېدلي دي.

دې سرچینې ټینگار کړی چې دغه پلاوی له خپلو مشرانو سره په مشوره کې دې هوکړې ته رسېدلی، چې له امریکا سره د سولې هوکړې په لاسلیک سره به جوخت لنډمهاله اوربند هم کېږي.

وروسته له هغې چې د قطر د خبرو په وروستي پړاو کې امریکا له طالبانو وغوښتل چې د سولې هوکړې له لاسلیک مخکې دغه ډله اوربند اعلان او تاوتریخوالی کم کړي، طالبانو د مشورې لپاره د مولوي شهاب الدین دلاور او مولوي خیرالله خیرخواه په گډون، درې کسیز پلاوی پاکستان ته ولېږه.

پخواني طالب چارواکي سید اکبر اغا په دې تړاو ویلي: «زما په نظر د امریکایانو اسرار په اوربند و، خو د طالبانو ټینگار دا و چې له خپلو مشرانو سره مشوره وکړي، دوی د یوه لنډمهاله اوربند په تړاو تللي دي او له خپلو مشرانو سره یې لیدلي دي. داسې ښکاري چې مشورې مثبتې دي. امریکایان غواړي چې اوربند دې له هوکړې مخکې پلی شي، خو طالبان بیا غواړي چې دا اوربند له هوکړې وروسته وشي؛ ځکه طالبان وایي چې که مخکې وشي، بیا به مسوولیت موږ ته راجع شي چې مخکې موږ ورسره جگړه کوله او اوس ورسره جگړه دروو».

په ورته وخت کې افغان حکومت تمه لري چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې له لاسلیک مخکې، طالبان اوربند اعلان کړي او له افغان حکومت سره خبرو ته کېني.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې ناجیې انوري ویلي: «سوله د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو تر منځ د مستقیمو مذاکراتو په پایله کې به تامین شي. طالبان باید د سولې لپاره رامنځ ته شوی فرصت له لاسه ورنه کړي او د خلکو غوښتنو او د مخامخ خبرو غوښتنې ته دې درناوی وکړي».

بلخوا د سولې د روانو خبرو په تړاو سرچینې وایي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد په قطر کې دی او د تاوتریخوالي د کمښت او اوربند په اړه د طالبانو د نظرونو په تمه دی، څو په دغه کار سره د دواړو لوریو تر منځ د سولې د هوکړې د لاسلیک لپاره لاره هواره شي.

## چارواکي: د داعش د نیول شویو غړو د برخلیک په تړاو به له څېړنو وروسته پرېکړه وشي

افغان چارواکو ویلي، د داعش ډلې له نیول شویو جنگیالیو د نړیوالو او ملي قوانینو په رڼا کې څېړنې کېږي.

دوی ویلي، د اسلامي دولت ډلې یا داعش د خراسان څانگې له نیول شویو غړو لومړنۍ پوښتنې گروېږنې پیل شوې دي.

د دوی په خبره، په تېرو شپږو میاشتو کې د افغانستان په ختیځ کې د داعش ډلې تر ۷۰۰ زیات وسله وال د خپلو کورنیو له غړو سره یوځای یا نیول شوي یا خپله دوی ته تسلیم شوي دي.

د ملي امنیت عمومي ریاست یوې سرچینې د موضوع د حساسیت له کبله د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډیو ته ویلي، چې په دغو وسله والو کې ډېری یې پاکستاني وگړي دي.

د سرچینې په خبره، په تسلیم شویو کې د منځنۍ اسیا، اردن او ترکیې وگړي هم شته.

یادې سرچینې دغه راز ویلي، له دغو نیول شویو کسانو د نړیوالو او د افغانستان د خپلو قوانینو په رڼا کې څېړنې روانې دي او بیا یې برخلیک مشخص کېږي.



دا په داسې حال کې ده چې په تېرو نږدې دوو میاشتو کې د داعش ډلې زیات وسله وال په ننگرهار کې نیول شوي او ډېر نور یې تسلیم شوي دي.

د دغه ولایت والي شاه محمود میاخېل ازادي راډیو ته ویلي، د نورو هېوادونو نیول شوي وگړي کابل ته لېږل شوي او په اړه به یې هلته پرېکړه کېږي.

میاخېل زیاته کړې چې په ننگرهار کې اکثره د اورکزو، باجوړ، خیبر او پېښور وگړي پاتې دي چې زیاته سلنه یې د اورکزو دي.

په ورته وخت کې د اسوشېټېډ پرېس خبري اژانس د راپورونو له مخې، د افغانستان په ختیځ کې د داعش د تسلیم شویو ښځو او ماشومانو شمېر ۲۷۷ تنه ښودل شوی دی.

د اژانس په حواله، د داعش د غړو په تسلیم شویو کې ۷۵ ښځې او ۱۵۹ ماشومان هم شامل دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد د ډسمبر په درېیمه ویلي وو، چې د امریکا، ائتلافي ځواکونو او افغان امنیتي ځواکونو تر څنگ، د طالبانو د اغېزناکو عملیاتو له کبله د داعش خراسان څانگې زیاتې سیمې او جنگیالي له لاسه ورکړل.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer

New Vision, New Journey

Daily



if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com



دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي دویمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۳مه | ۴۸۴یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۵ | ۱۴ | ۱۳ | ۱۸ | ۱۶ |
| -۲ | ۰ | -۲ | ۴ | ۴ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۶ | لمر ختل ۰۶:۵۶ | ماسپښين ۱۱:۵۲ | مازیگر ۰۲:۲۹ | ماښام ۰۴:۴۷ | ماخوستن ۰۶:۱۷

## نړۍ



## لاوروف: مسکو نه غواړي چې د امریکا د خوشالۍ لپاره له چین سره خپلې اړیکې خرابې کړي

۳

## جانسون: د ناټو ټرون پر وړاندې لاهم لوی خنډونه شته چې باید مبارزه ورسره وشي



د بریټانیا لومړي وزیر بوریس جانسن ویلي چې ناټو په تېرو ۵۰۰ کلونو کې د نړۍ تر ټولو بریالی پوځي ټرون دی.

نوموړي دغه راز ایستونیا ته په خپل سفر کې ویلي چې لاهم د دغه ټرون پر وړاندې لوی خنډونه او ماموریتونه په مخ کې شته چې غړي هېوادونه باید ورته کار وکړي.

د بریټانیا اوسني لومړي وزیر بوریس جانسن چې محافظه کار گوند یې د بریټانیا په وروستیو عامه ټاکنو کې بریالی شو، زیاته کړې چې غواړي له روسیې سره خپلې ترینگلې اړیکې ورغوي.

ده همدا راز ویلي چې دواړه هېوادونه په اړیکو کې لویې ستونزې لري چې د دوی د لرې توب سبب شوې دي.

خو جانسن ویلي چې روسیه په ډېریو ځایونو کې د ناټو ټرون پر وړاندې ستونزې جوړوي، چې په خبره یې دغه ډول اقدامات د سیمې د ټیکاو لپاره بدې پایلې لري.

وروسته له هغې چې روسیې د اوکراین په ختیځ کې کریمیا ټاپووزمه له خپلې خاورې سره یوځای کړه، امریکا، بریټانیا او د ناټو ځینې متحدان په دوره یې ډول ایستونیا، لیتوانیا، لاتویا او پولنډ ته ځواکونه لېږي چې له روسیې سره نږدې پولې لري. د ناټو ټرون د غړو هېوادونو دغه اقدامات د روسیې له جدي غبرگون سره مخ شوي او له همدې کبله یې سیمې ته نږدې څو ځله پراخ پوځي تمرینونه هم تر سره کړي دي.

## عمران خان: د کشمیر په مسئله کې هند ته غاښن ماتوونکی ځواب پکار دی



د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي، که هند په کشمیر کې خپلو غیرقانوني اقداماتو ته دوام ورکړي، نو پاکستان د وضعیت د کنټرول لپاره هند ته له غاښن ماتوونکي ځواب پرته بله چاره نه لري.

هغه زیاته کړې چې فاشیستي افکارو د هندي چارواکو پر ذهن غلبه کړې ده او له همدې کبله یې په کشمیر کې پر خلکو ظلمونه ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي. نوموړي په هند کې روانو لاریونونو ته په اشارې ویلي، چې هندیانو د مودي پر وړاندې قیام کړی او دا د دې ښکارندویي کوي چې هغوی هم د مودي له غیر معقولو سیاستونو سترې شوي دي. د نوموړي په خبره، په کشمیر کې د نظامي وضعیت تر له منځه تللو وروسته به دا سیمه د خونړۍ جگړې پر ډگر بدله شي.

عمران خان دغه څرگندونې وروسته تر هغې کوي چې په دې وروستیو کې هند د پاکستان تر کنټرول لاندې په کشمیر کې د پاکستاني پوله ساتو امنیتي پوستې تر بریدونو لاندې نیولې دي.

د یادونې ده چې وروسته له هغې د هند تر کنټرول لاندې کشمیر کې کړکېچ زیات شو، چې د هند پارلمان د هند تر واک لاندې کشمیریانو څخه کورواکي سلب کړه او د وضعیت د کابو کېدو لپاره یې سیمې ته په زرگونو امنیتي ځواکونه ولېږل.

## کمیسیون شکایات: نامزدان معترض سه روز فرصت دارند تا شکایت‌های‌شان را ثبت کنند



کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی می گوید که نامزدان معترض، سه روز فرصت دارند تا شکایت‌های‌شان را ثبت کنند.

زهره بیان شینواری رئیس کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی، که دیروز دریک نشست خبری صحبت می کرد، برای ثبت و رسیده‌گی به شکایت‌ها و اعتراضات در پیوند به نتیجهٔ ابتدایی انتخابات ریاست جمهوری، اعلام آماده‌گی کرد.

خانم شینواری، از همه نامزدان انتخابات ریاست جمهوری خواست تا در صورتی‌که درباره اعلام نتایج ابتدایی شکایت و اعتراض داشته باشند، آن را با اسناد و شواهد در این کمیسیون ثبت کنند.

وی گفت: «نامزدان معترض، سه روز فرصت دارند تا شکایت‌های‌شان را ثبت کنند».

بربنیاد معلومات منبع، روند ثبت شکایات در کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی، امروز(دوشنبه) ساعت هشت صبح، دوم جدی آغاز می‌شود و برای سه روز ادامه می‌یابد.

از سویی هم مولوی دین محمد عظیمی، معاون کمیسیون شکایات انتخاباتی، با بیان اینکه این کمیسیون یک نهاد مستقل و بی طرف است، گفت: «ما با استقلال کامل می توانیم همه محلات و یا برخی محلات را به تفتیش و بازشماری ببریم؛ این به این معنی نیست که همه تصامیم کمیسیون انتخابات نهایی میباشد».


موصوف، آرا و معلومات بایومتریک را خط سرخ کمیسیون شکایات انتخاباتی خوانده و گفت که همه اجراآت این نهاد، با استقلالیت کامل انجام می شود.

همچنان محمد قاسم الیاسی منشی و کمیشنر کمیسیون شکایات انتخاباتی، از تکت های انتخاباتی و شهروندان خواست که از پیشداوری خود داری نموده و خونسردی شان را حفظ کنند.

الیاسی، با اشاره به اینکه نتایج اعلام شده ابتدایی است، علاوه کرد که پس از رسیدگی به اعتراضات و شکایات از سوی کمیسیون شکایات انتخاباتی، در مورد دیدگاه های شان را بیان می کنند.


## ژوند

## چوپتیا چېرته ورکه ده؟



د هوایي ډگر انتظارخونې ته لاړم، څو یو څه ولولم. ډېره گڼه گوڼه وه. د خلکو موبایلونو ته پرله پسې زنگونه راتلل. (د زنگونو غږ ډېر بد لگېده، اوس مې هم چې کله را په یاد شي، د شپې مې له خوبه را ویښوي.) خلکو په لوړ غږ په موبایلونو کې خبرې کولې. یو مسافر په خپل لاسي الکتروني گېم کې له غوړیو پرته لوبه کوله، موږ ټولو د هغه د ډزو او له ښامارانو سره د جنگ اواز اورېد. په ډېر لوړ غږ یې خپل گېم کاوه. په حقیقت کې خندوونکي هم وه. د نړیوال درناوي عبارت مې له خپل موبایل څخه پاک کړ، ځکه چې د دې موضوع مراعاتول نه و. وروسته په الوتکه کې د کېناستو لپاره د تیارېدو ځای ته لاړم. شور ماشور، گڼه گوڼه او لا ډېر شور ماشور. درې لوی ټلوېزیونونه پر دېوال باندې نصب شوي وو. اوازونه یې تر لسمې درجې لوړ وو. هېچا د ټلوېزیون د لیدلو حوصله نه درلوده، یوازې د ټلوېزیون لوړ غږ د خلکو اعصاب خرابول. یو ځل بیا هماغه گېم کوونکی را پیدا شو. زه د ټکنالوژۍ ستاینه کوم. موږ ته د غوره کار کولو او ښه ژوند کولو امکانات راکوي؛ خو که سمه گټه ترې واخیستل شي.

## د زیتونو د گټو په اړه مو اورېدلي؟



د یوې نوې څېړنې له مخې دا په ډاگه شوې چې د زیتون تېل پر سرطان اخته انسان د سرطان له ناروغۍ څخه ژغورلای شي او کارول یې زیان نه لري. هاورډ پوهنتون په دې څېړنه کې ویلي دي چې زیتون په خپل جوړښت کې (کنټال) ماده لري، کنټال هغه ماده ده چې د سرطان وایروس ځپلې حجرې له منځه وړي او هغه حجرې چې لا تر اوسه د سرطان پر وایروس نه دي ککړې شوې، د سرطان له وایروس څخه یې خوندي ساتي. په څېړنه کې راغلي دي چې کنټال ځپل شوې حجرې ته ننوځي او پروټین خارجوي چې دغه پروټین د ځپل شوې حجرې په ختمېدو کې لویه دنده تر سره کوي. نن سبا په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې هم د معدې او کلمو د سرطان د درملنې په موخه د زیتون تېل کارول کېږي. ساینسپوهانو له زیتونه د دې حیرانوونکو گټو د لاس ته راوړلو په موخه لومړی د زیتون (کنټال) ماده پر ژوندي سرطان کارولې او وې لیدل چې د سرطان له وایروسه اغېزمن شوې حجره له منځه ځي. په څېړنه کې دا هم ویل شوي دي چې دا اړینه نه ده چې سل په سلو کې دې د سرطان ناروغ د زیتون د تیلو په خوړلو روغ شي او سرطان دې له منځه یوسي. د زیتون تېل د سرطان په ځپلو کې اغېزمن دي؛ خو د کیمو تراپي (Chemotherapy) په څېر بدې پایلې نه لري.